# "ادب المهجر"

# Literature of Migration *

**Said Ul Amin Ahsan Kheshki★**

**ABSTRACT:**

(Besides its matchless richness and perfection, Arabic literature has indelible impacts and influences not only upon the adjacent contemporary nations, but on the far-flung continents, their languages, collective thinking, and literary trends as well. Their presence established centers of learning in Medina ,had been shifting from the peninsula of Hejaz to Damascus, from Persia to the Iberian Peninsula, from Spain to the Ottomans at Constantinople, from Central Asia to South Asia, contributed magnificently in sciences, theology and literature, philosophy and metaphysics .Leaving and brushing aside all the comprehensiveness and perfectionism of the Arabic literature, an attempt has been made to focus upon a specific literary school of thought, Adab Mahjar, or 'literature of Émigré', produced by Arab-American men of letters during their migration/ stay at and to the United States of America in **19th** and **20th** centuries. The prominent literary figures affiliated with the school, had a multi-faceted literary approach, unique experience amalgamated with Oriental and Occidental knowledge, eagerness of enriching the Arabic prose and poetry with modern thinking and trends, and an unwavering commitment of serving their language. In the same passion and fashion it has been strived to touch upon the literary and scholarly

---

★ Civil Servant Government of khyber Pakhtunkhwa

ادب مهجر، د ادب مهجر سره تړلي ادبي شخصيات، د هغوي تصنيفات، دافغانانو ورونو هجرت، په ادبي اصنافو کښې د هغوي برخه او بخښني

works produced by Afghan writers during their migration and stay to and at Pakistan).

د یونان او بابلي تهذیبونو دفنا کېدو نه پس چې د کومو سترو تهذیبونو احیاء اوشوه هغه رومن او فارس وو، د افاقي دین اسلام په ابتدا کښې د هم دغه دوو لویو تهذیبونو ذکر قرآن هم کوي لکه سورت روم کښې ورته اشاره شوې ده - هم په دغه زماني کښې د دوي د یو بل سره اختلافاتو او جګړو د دوي قوت ختم کړو او بیا وروستو ې د اسلام د فتوحاتو په دور کښې د خپل بقا جنګ بائللو او زیاته برخه ئې د اسلام د قابو لاندې راغله

د دغه قدیمو قامونود سیاسي زوال نه پس چې کوم تهذ یب خپلې وزرې الوت ته سمولې هغه د عربي او سریاني ژبو وئیونکي د عربو بادیه نشینان وو، اګر که دوي د دغه ترقي یافته او مهذب ژوند نه ګوښې یو طرف ته د قناعت ژوند تېرولو او هم په دې ئې فخر کولو، دغه بدوي ژوند هغوي هر څۀ ګڼلو ـ د عبراني او سریانې تهذیبونو اثر لا ختم نه وۀ، خو په قبیلوي او عمرانیاتي توګه د حجاز عرب ځانله پاتې وو او د رومن او فارسي بادشاهتونو سره ئې سفارت او راشه درشه هم لرل، او دغو علاقو ته د دوي تجارتي سفرونه هم کېدل-

د صحرا سخت او د یوازیوالي ژوند د عربو په مزاج کښې بې مثاله آزادي، حریت، ژورفکر، باریک بیني، جرات، فصاحت، دخیال ندرت او نزاکت، د فکر رفعت او جامعیت لکه د خمیر اغږلے وۀ ، دغه معاشرې که یو اړخ ته د نابغه ذبیاني غوندې لوے خطیبان زېږؤل ، نو بل اړخ ته ئې د دنیا بهترین ادبِ عالیه هم د المعلقات السبع او حماسه په شکل کښې تخلیق کولو او د امراء القېس ۵۰۰-۵۴۰ خواؤشا ، طرفة ابن العبد ۵۶۳-۵۶۹ خواوشا ، زهېر بن ابي سلمي ۶۲۷-۵۳۰ء، لبید بن ربیعه ۶۶۱-۵۶۰ ، عمرو ابن کلثوم ، عنتره بن شداد ۶۱۵-۵۲۵ او حارث بن حلزه او نورو بې شمېره شخصیاتو غوندې افراد اوزېږول چې د هغوي تخلیق کړې شوې قصیدې د راتلونکې نسلونو د پاره د معیار ، مثال او نمونه اوګرځېدې *۱

شعر او ادب او فصاحت او بلاغت د عربو د تمدن او د عربي ټولني يو لازم جز وؤ ، ځکه بدوي او قبیلوي ژوند کښې شعر وئیل د فخر او ویاړ ذریعه وه او په هر دور کښې د دې حېثيت کم شوے نۀ دے، هن دا وه چې د اسلام راتللو سره ئې رخ او مقاصد متعین شو۔

له نورو ډېرو حوالو پرته دوېم خلیفه امیر المومنین سیدنا عمرِ فاروق رض ته منسوب قول په عربي ژوند کښې دشعر او ادب دغه اهمیت نور هم جوتوي نقل دي چې:

علیکم بدیوانِکم لاتضلوا ،قالوا وما دیواننا ؟ قال شعرالجاهلیة فان فیه تفسیرَ کتابِکم و معاني کلامِکم"*۲"

ژباړه": په تاسو د(عربو) دیوان (لازم دي) چې ګمراه نۀ شئ،(خلقو) اووئیل زمونږ دیوان څۀ دي(هغوي) اوفرمائیل د جاهلیت شعر چې په هغې کښې ستاسو د کتاب وضاحت او ستاسو د کلام معاني دي"

وروستو بیادعلم او حکمت،تاریخ او حوادثو،پوهې او دانايئ دغه خزانې نورې هم اهمې اوګرځېدې او د دغه تهذیب او تمدن د تاریخ د محفوظولو ذریعې ثابتې شوې ځکه نو:

امام ابو محمد بن مسلم بن قتیبه الدینوري (المتوفي ۲۷۶ه) خپل کتاب عیون الاخبار کښې لیکي

"الشعر معدن العرب ،وسفر حکمتها ، و دیوان اخبارها ،و مستودع ایامها والسور المضروب علي مآثرها ،والخندق المحجوزعلي مفاخرها"*۳

ترجمه": شعردعربو دعلم خزانه،د حکمت سفر او ګنجینه،د هغوي د واقعاتو او اخبارو دیوان،د هغوي د تېرو ایامو روداد ،د هغوي د اخبارو د پاره دیوان او د هغوي د تاریخي سرګرمیو د پاره حفاظتي خندق دي"

د زماني تېرېدو او مرُور ددې په حېثيت کښې فرق رانهٔ وستو او دعلامه ابن خلدون قول شيخ الادب مولانا اعزاز علي د ديوان الحماسه مقدمه کښې داسې نقل کوي

"قال العلامه ابن خلدون اعلم ان لسان العرب و کلامهم علي فنين في الشعر المنظوم وهو کلام المقفي ومعناه الذي تکون اوزانه کلها علي روي واحد و هوالقافية وفي النثر و هو کلام غيرالموزون کل واحد من الفنين يشتمل علي فنون و مذاهب في الکلام فاما الشعر فمنه المدح والهجاء والرثاء"*۴

ترجمه:علامه ابن خلدون وئيلي دي چې ځان پوهه کړه چې د عربو ژبه او کلام په دوه قسمه دي په منظوم شعر کښې او دغه کلام مقفي دي او معني ئې دا چې د دې ټولو وزنونه په يواندازوي اوهغه قافيه وي ، په نثر کښې-او دا هغه غير موزون کلام دے ددغه دوه فنونو نه چې په څو(نورو) فنونو او مذهبونو مشتمل دي په کلام کښې نو هر چې شعر دي نو له هغې نه مدح، هجاء او مرثيه ده"

هم په دغه اساس الدکتور محمد خير ابوالوفا خپل نظرونه زمونږ په وړاندې داسې بږدي

"ولا يخفي علي ذوي البصر ان(اشعار العرب) هي مجامع الاحتجاجات بفصاحة الکلام و دلالته و حسن ترکيبه وهي اسانيد قواعد العربية و اصول النحو والبلاغة والبديع والبيان وهي اي اشعار العرب المدخل الي حيازة العلوم القرآن والحديث النبوي الشريف"*۵

ترجمه:"او د هر هوښيار نه دا خبره پټه نهٔ ده چې د عربو اشعار جمع کوونکي دي احتجاجات د کلام په فصاحت،او د دې د ښهٔ دلالت اوښهٔ ترتيب سره ـ او هم دغه اساني د دي د عربي ژبې او د نحوي اصولو قواعد دي او بلاغت او بيان او بديع دي او دغه اشعار عرب د قرآني علومو او حديث نبوي زدکړې د

پاره لاري چارې دي"

د شعرتعاريف اواهميت وړاندې کولو نه پس مونږ راځو د شعرِ عرب تاريخ،ارتقاء او ادوارو ته ۔پـه بنيادي توګه د ادب استاذان او مورخين دا پـه پينځو دورونو کښې وېشي ۔

۱-عصرالجاهلية او ما قبل اسلام يعني د جاهليت دور،د اسلام نه اګاهو دور

۲-عصرِ اسلامي من ظهور الرسول(عليه السلام) الي سقوط الدولةالامويه (۶۶۱-۷۵۰) يعني د رسول الله صلي الله عليه وآله وسلم د ظهور نه تر د اموي دولت د ړنګېدو پورې۔

۳-عصرالعباسيين اولاعصر العباسي الي سقوطِ بغداد في يد التتار(۷۵۰-۱۲۸۵) ،عصر عباسي تر د تاتاريانو د يرغل پورې

۴-استيلاء التتار علي بغداد الي نزول الحملة الفرنسية بمصر(۱۷۹۸ع)

۵-العصر الحديث الذي يمتد الي ايامنا الحاضرة يعني لـه تېر دور نه تر د دې زمونږ موجوده دور پورې*۶

د اسلام خورېدو او اشاعت د فکر او خيال سيادت او سياست،تهذيب او تمدن نوې لارې پرانستې او اسلام او د دې آفاقي دين منونکې ئې د نوؤ سوالونو او جوابونو سره مخ کړه ، ددغه ابتدائي حالاتو عکس بناغلي اکبر – ايس احمد په دېو الفاظو کښې سازوي، ليکي

"When the Prophet (AS) died in **632** AD the Arabs were trembling with energy and faith, ready to explode, on to the world stage. Led by the first four 'righteous Caliphs' Abu Bakr, Umar, Uthman and Ali (**632-661**), they raced with exuberance of their message across most of what was civilization. Within decades they arrived at Spain in the West and Sind in the East. It seemed nothing could stop them.

"The world had not seen anything like that early Muslim explosion. The Roman conquests had been slow and steady.

Alexander the great had effected a spectacular entry into Asia, but Alexander was like a meteor and immediately after he died his Greek empire fell apart. The Muslims brought with them a fresh civilization, a new way of looking at and living life; they had come to stay"*۷

ژباړه :کله چې (خوږ-ناقل) نبي (عليه السلام- ناقل) وفات شو په کال ۲۳۲ کښې نو عرب دنيا ته د مذهب د اظهار دپاره د جذبې او جوش نه بې قراره وو،د وړومبو څلورو خلفائے راشدينو ابو بکر،عمر، عثمان او علي (رضي الله عنهم) ۶۶۱-۶۳۲ په مشري کښې دوي ډېر په تندي خپل پېغام د هغه وخت تهذيب ته اورسولو- په څو لسيزو کښې دوي په مغرب کښې سپېن او په شرق کښې سند ته اورسېدل- د روميانو فتوحات ډېر په ورو او قلار وو-
دنيـــا د دغـــه ابتـــدائي مســـلمانانودرابرخېره کېدلوغونـــدي بـــل څـــۀ نـــۀ وو ليدلي،سکندراعظم ډېرپه زړۀ ورتيا اېشيا تـه رانتـوت خـو د هغـۀ د مرګـه نـه سمدستي پسته د هغۀ سلطنت تس نس شو- مسلمانانو د ځان سره يو تازه تهذيب راوړو،د ژوند تېرولو او ژوند ته د کتلو يو نوے انداز- دوي د مېشتۀ کېدو د پاره راغلي ؤ"
لـه نـورو اسـبابو عـلاوه پـه کـال ۱۴۹۲ء کښـې پـه سـپېن کښـې د مسـلمانانو زوال،او دعثمـــاني ســـلطنت ۱۳۰۰-۱۹۲۲ د رامخـــې تـــه کېـــدو،د صـــفوي حکمرانـــانو پـــه ۱۵۰۱-۱۷۲۲کښـــې او د مغـــولي حکومـــت پـــه ۱۵۵۶-۱۸۵۷ ،رنګېدو، په خپلو جغرافيائي سرحدونو خصوصاً او په ټوله نړۍ عموماً د هغې په ادب،علم،سياست،او فکر ژور اثرات پرېباسل او ځـاے پـه ځـاے د علم او عمل او فکر او نظر چينې او سرچشمې رواني او د اسلامي فکر د احياء او بقا د پاره هڅې جاري اوساتلې-
د دومره اوږد تمهيد نه پس مونږ ځان د نور طولِ بحث نه ژغورو او خپـل اصلي موضوع ته راځو چې ادبِ مهجر دې ځکه نو قديم جاهلي،متوسط او جديد تر ادبي ادوار بل کوم ليک ته پرېږدو-

ښاغلي معزازالرحمان تعلقدار چې د نوي ډيلي د جواهر لعل يونيورسټۍ د سنټر آف عربيک اينډ افريکن لينګوېجز ريسرچ فلو دے ،خپله مقاله کښې د ادب المهجر او د هجرت د اسبابو په باب داسې ليکي،

"Syria(which comprises present Syria, Lebanon and a part of Palestine) in the past was home to the large Christian fellowship till shortly before the advent of Islam. Mention may be made here that most of the immigrant poets and writers in form Lebanon were of Christian origin. In the course of history, Lebanon fell under the rule of Ottoman caliph Sultan Abdul Hamid. Being oppressed by the despotic regime of the caliph the oppressed people had no other option but to humbly leave their country. In the last few decades of **19th** century and early decades of **20th** century ,a group of Arab literature migrated to North and South America and produced there a literary form known as Mahjar literature or migration literature. These writers of Arab origin not only wrote in Arabic but also in English, Spanish and Portuguese languages."*۸

ژباړه:" سوريا چې د موجوده شام،لبنان او د فلسطين په څۀ حصه مشموله ده،د اسلام د ظهور نه لږ وړاندې د عيسايت د منونکيو ډېره ابادي لرله،دلته بايد دا خبره ذکر کړے شي چې د لبنان د دغه مهاجرو اديبانو او شاعرانو زياته برخه په عيسائي المذهبه افرادو مشتمله ده، د تاريخ په اوږدو کښې لبنان د ترکېې د عثماني خليفه سلطان عبدالحميد په ولقه کښې راغلو،د جور او زور د دغه حکومت تر لاندې،دغه ځپلي خلقو يوه لاره لرله،چې په شرافت خپله خاوره پرېږدي ،د نولسمې صدۍ په آخر او د شلمې صدۍ په وړومبو لسيزو کښې د عرب اديبانو يوې ډلې جنوبي او شمالي امريکې پله کډې اوکړې او هلته ئې د ادب يو صنف متعارف کړو چې ادب مهجر يا د هجرت ادب په نوم و پېژندے شو-،دغه مهاجرو اديبانو نۀ صرف دا چې په عربۍ کښې ليکل اوکړل بلکې په انګريزۍ،سپېني،او پرتګېزي ژبيو کښې ئې هم ليکل کړل-"

دوي له غربي ادب نه اثر واخستو او ازاد نظم له د ودې ورکولو په ذريعه ئې په عربي ادب کښې يو انقلاب راوستو، نثر له ئې اساتنيا ورکړه او پېچيدګۍ ئې ترې لرې کړه

دوي خپله دغه مقاله کښې وړاندې ليکي:

"….Actually Syrian migration started in **1854** to be precise .It is reported that in between **1870** and **1900** around **1/3**rd of the total population migrated to the foreign lands.

ژباړه"په حقيقت کښې(دغه) هجرت اصلاً په ۱۸۵۴ع کښې شروع شو،د يو رپورټ تر مخه د کال ۱۸۷۰ء او ۱۹۰۰ء تر مېنځه د ټولې آبادۍ دريمه حصه بهر ملکونو ته کوچ اکړو".

لغوي او اصطلاحي معني ئې په دې انداز کوي :

"..The term "Mahjar" is derived from the Arabic root"Hijra"which means migration. Here in the Arabic context of Arabic literature the term Mahjar denotes a school of modern Arabic literature that was developed by the migrant Arabs in the North and South America in the late **19th** and early **20th** centuries."*۹

ژباړه :د"مهجر" اصطلاح د عربي مادې "هجر" نه مستعار ده چې معني ئې له يو ځايه بل خوا تلل دي، دعربي ادب په سياق کښې ترې هغه جديد عربي ادب مراد دے چې مهاجرو عربو اديبانو ورله په شمالي او جنوبي امريکه کښې په نولسمه او شلمه صدۍ کښې وده ورکړه.

ياده دې وي چې د ادب مهجر اکثر غړي او ليکونکي يا خو د شام سره اړيکي لري او يا د لبنان اوسېدونکي دي چې غربي نړۍ ته ئې هجرتونه کړې دي،خو سوال دا پيدا کېږي چې دوي ولې خپل وطنونه پرېښود او باهر مسافرت کښې ئې خپلو ادبي هڅو ته دوام ورکړو. په دې باب فاضل مقاله نګار داسې ليکي

"During late **19th** and **20th** centuries, Lebanon witnessed the despotic regime of Ottoman Sultanat of Abdul Hamid.His regime was that of oppression, lack of freedom, as well as

respect of human dignity along with bad economic condition. In such a harsh condition, people were often detained or imprisoned on one pretext or the other"-*۱۰

ژباړه"- د نولسمې او شلمې صدۍ په اوان کښې لبنان د عثماني سلطنت عبدالحميد دجابر حکومتي نظام لاندې ژوند تېرولو. د نظام حکومت د زور زياتي، د ازادۍ د نيشتوالي، عدم مساوات، انساني عزت او معاشي بدحالۍ دور دوره وه. په دغه سختو حالاتو کښې اولس به بالعموم په نۀ څۀ خبره ځورول کېدو، په نۀ څۀ قصور به نيول او د جېل د تمبو شاته اچول کېدل" په داسې حالاتو کښې دغه لبناني او شامي عيسائي المذهبه شخصيات يا په اقليت کښې د کېدو، يا د معاشي محروميو، يا د سياسي زور زياتي، او يا د نوي ژوند په تکل کښې، د مشکلاتو او ارمان سره مخ وۀ، د مغربي او امريکائي هېوادونو ته مخه اوکړه. هلته د مېشتۀ کېدو نه پس دوي که يو اړخ ته دسلطنتِ عثماني په ضد د روانو سياسي تحريکونو سره همدردي او مرستې کولې او د يو سياسي مقصد د پاره په حرکت کښې وو نو بل اړخ ته ئې معاشي اعتبار سره ژوند هم ښۀ کېدو خو د دې هر څۀ باوجود دخپل شناخت د مسئلې سره هم مخ وو. ځکه دوي ادب د خپل اظهار وسيله اوګرځوله، او عربي ادب ته ئې په لږ وخت کښې ډېر څۀ ورکړل. امريکې ته د تللو نه پس دوي خپلو هڅو له دمنظم دوام ورکولو د پاره دوه ادبي تنظيمونه جوړ کړل. الرابطة القلميه په شمالي امريکه کښې او العصبة الاندلسيه په جنوبي امريکه کښې، الرابطة القلميه په ۲۰ اپريل کال ۱۹۲۰ع کښې د دوۀ ورونو عبدالمسيح حداد او ندره حداد په کور کښې بنا شو، چې مقصدئې د عربي ادب نه جمود لرې کول وو. په کال ۱۸۹۲ع کښې دوي وړومبے انګريزي اخبار"کواکب امريکه" جاري کړو، چې دې په تسلسل کښې وروستو په کال ۱۹۱۹ء کښې بيا نهۀ عربي اخبارونه اجراء وو-

د هجرت د اسبابو په حقله لکه څنګه چې د وړاندې ذکر اوشو چې که يو اړخ ته د عثماني ترکانو د ناروا ټېکسونو بوج وۀ نو بل اړخ ته سياسي ګډوډې، جمود

او د عربو موروثي طالع آزمائي او جهان بيني هم وه، دغه رنګ د آبادۍ ډېروالے د وسائلو کمے او فقدان او معاشي ناهمواري هم هغه اسباب وو چې د حساس فکر خاوندان او د معاش په تلاش کښې سرګردانه ذهنونه ئې په هجرت مجبور کړل۔ د ادب مهجر په موضوعاتو، شخصياتو، او مرام او مقصد بحث کولو نه اول مونږ د شمالي او جنوبي مهجر د ډلو لنډه پېژنګلو او جاج اخلو۔

د شمالي مهجر اديبان

خليل جبران، ايليا ابو ماضي، نسيب عريضه، رشيد ايوب، عبدالمسيح حداد، ندره حداد، مېخائل نعيمه، وليم کاتسفليس، مسعود سماحه، او امين الريحاني وغيره *۱۱

د جنوبي مهجر اديبان

الشاعر القروي، فرحات، عقل الجر، جارج صيدح، جارج کرډي، سمعان، فوزي معلوف، شفيق معلوف، رياض معلوف، شکر الله الجر القروي، نصر سمعان وغيره۔

دلته د دې خبرې ذکر ضروري دے چې دغه دور په عربي ادب کښې د مکمل انحطاط او فکري جمود دور څکه نۀ وۀ چې لويو او سترو اديبانو په هم دغه ايام کښې ژوند کولو او ډېرې ګټورې بخښنې ئې عربي ادب ته کړې دي، لکه نجيب محفوظ (۱۹۱۱-۲۰۰۶) چې په ۱۹۸۸ع کښې ورته د ادب نوبل انعام هم ورکړې شوے، موسي لطفي المنفلوطي ۱۸۷۶-۱۹۲۴

احمد تېمور (۱۸۷۱-۱۹۳۰ع)، حافظ محمد ابراهيم، (۱۸۷۲-۱۹۳۲ع) محمد حسين هيکل (۱۸۸۸-۱۹۵۶

محمود تېمور (۱۸۹۲-۱۹۲۱

او نور قد آور ادبي شخصيات موجود وو چې د هغه وخت په شعر او ادب ئې ژور اثرات پرېښي دي۔

سيد ضياء الحسن ندوي د دغه زماني د ادبي تاريخ احاطه په دې الفاظو کښې کوي،

"اس وقت کے ادیبوں میں بہت سے لوگوں نے اپنی طاقتور ترین شخصیت اور طرز نگارش کی بدولت امتیاز حاصل کیا، مثلا مصر میں ڈاکٹر طٰہٰ حسین، عباس محمود العقاد، توفیق الحکیم، ابراہیم عبدالقادر المازني، احمد حسن زیات، احمد امین، ذکی مبارک، سلامہ موسٰی وغیرہ میں سے ہر ایک، ایک منفرد ادبی حیثیت رکھتا ہے، شام و لبنان میں الیاس شبکہ، سبعیہ عقیل، مارون عبود، عمر ابوریشہ، کرم ملحم بشارۃ الخوذی وغیرہ بھی ایسی ہی منفرد شخصیت رکھتے ہیں"

ژباړه: د دغه وخت په اديبانو کښې اکثرو د خپلو اهمو شخصيتونو او طرز نګارش په وجه امتياز حاصل کړو لکه په مصر کښې طٰه حسين (۱۸۸۹-۲۰۰۶ء وغيره موجود وو ـ چې په نثري، تحقيقي، شعري او سيرتي ادب کښې ئې بېش بها خدمات دي ،دغه رنګ عباس محمود العقاد ،توفيق الحکيم، ابراهيم عبدالقادر مازني، احمد حسن زيات، محمود تيمور ،احمد امين، ذکي مبارک، او سلامه موسي وغيره ـ هم دغه رنګ په شام او لبنان کښې الياس شبکه سبعيه عقيل، مارون عبود ،عمر ابو ريشه، او بشارة الخوذي، هم منفرد شخصيات وو ـ چې په جديد ادب ئې ژور اثرات دي"*۱۱

**موضوعات**

د مهجري اديبانو دتخليقاتو په مطالعه کولو سره لوستونکي دې نتيجې ته رسي چې د دوي په مسلک او موضوعاتو کښې رومانيت او حقيقت پسندي ده، قوم پرستي، او وطن پرستي هم د دوي د شعر او ادب موضوعات دي- د خودساخته مذهبي استحصال، ناروا رواجونو او رسمونو خلاف مزاحمت، انساني اخوت، فطرت سره مينه، وحدةالوجود ،اواګون، او بهګتي مضامين هم لري، په تناسخ او وحدةالوجود اګرچې عربي ادب کښې شيخ محي الدين ابن عربي او ابوالعلاء المعري هم ليکل کړي دي خو دې دور کښې پرې جبران

اظهار کړے دے او د مېخائل نعیمه قصه،لقاء، او د تنقیدي مضمونونو مجموعه "الغربال" کښې د رابندراناته ټېګور په فن او شخصیت یو مستقل مضمون په نظر راځي،د محبت او عشق فلسفیانه موضوعات او افاقیت هم د مهجري ادب خاصه ګرځي- ددې په مقابل کښې د شمالي مهجر په ادیبانو کښې د اسلوب ساده والے، واضحه مقصدیت او ابلاغ ځرګند په نظر راځي- جبران جدید عربي ادب زیات متاثره کړو او نوي زړه راښکونکي تشبیهات او استعارات ئې پکار را وستل-*۱۲

ښاغلے معزاز الرحمان تعلقدار پورته ذکر کړے شوې مقاله کښې په دې باب نور وضاحت داسې کوي

> "Despite large influence of the western literature on Mahjar school, it was equally influenced by the earlier modern Arabic literary schools like “Neo Classical School “pioneered by Mahmud Sami Al Barudi and nurtured and developed upon by Ahmad Shawqi and Hafiz Ibrahim,the”Diwan School “of Shukri and Al Mazini and the “Apollo School” of Abu Shadi.Actually, this Mahjar literature is a hybrid of both English and Arabic literatures.”

ژباړه" په مهجر مکتبِ فکر باندې د مغربي ادب د ژور اثر نه علاوه روان جدید عربي ادبي مکتبونو هم پوخ اثر پرېښود لکه "نیو کلاسیکل سکول" چې د محمود سمي البارودي په مشري کښې روان وۀ او احمد شوقي او حافظ ابراهیم ورته وده ورکړه ،هم دغه رنګ پرې د شکرې المازني"اپالو سکول"او ابو شادي اثر هم شوے -په حقیقت کښې دا مهجر ادب د عربي اند انګرېزي ادبونو مجموعه ده-

سید ضیاء الحسن ندوي خپل کتاب کښې د موضوع په اعتبار وړاندې لیکي:

> ”ادبی مسلک کے اعتبار سے مہجری ادباء رومانیت کے قائل معلوم ہوتے ہیں اس کے ساتھ ہی حقیقت پسندی اور قوم پرستی کو بھی انہوں نے اپنایا ہے ان کے بیانی اسلوب

میں بلا کی سادگی اور پرکاری پائی جاتی ہے۔۔۔۔۔ مہجری ادب کے شاہکاروں کو دیکھ کر اس کا مقصد ج سمجھ میں آتا ہے کہ وہ ایک طاقتور ادب کی تخلیق ہے جس میں الفاظ و معانی اور افکار و خیالات کا بہترین امتزاج پایا جائے جس میں فکر و خیال کی پرواز پر کوئی پابندی نہ ہو اس ادب کی تاثیر اور طاقت کا راز بھی اس کی بلند پروازی اور فلک پیمائی میں پنہاں ہے*۱۴"

ژباړه: "د ادبي مسلک له رویه مهجري ادیبان د رومانیت قائل ښکاري، دې سره سره حقیقت پسندي او قوم پرستي هم د دوي موضوعِ بحث ده د دوي بیاني اسلوب کښې بسیاره سادګي او پرکاري ده،د مهجري ادیبانو د فن پارو مطالعه دا مقصد مخې ته راوړي چې دا د یو زورور ادب تخلیق دے،چې د ټکیو او معانئ او فکرونو او خیالاتو غوره امتزاج لري،چې په کښې د فکر او خیال په الوت هېڅ بندېز نشته،د دې ادب د تاثیر او طاقت راز د دې په پراخ الوت او فلک پېمائي کښې پټ دے۔"

د دې مکتبِ فکر ادبي بحثونو او ورکړو مغربي 'مؤرخین او پوهان هم مجبوره کړل چې د دغه ادب اسباب مخې ته راوړي او یوه قرینه سازه کړي چې څنګه په تش لاس او بې سروساماني کښې دومره ښۀ ادب تخلیق کېږي،په دې بنیاد رابن واټر فیلډ د لبنان د تعلیمي حالت او د مهجري ادب د تاریخ او ارتقاء په باب داسې لیکي،

> "Syrian Protestant College, forerunner to the famous American University of Berut, was founded in **1866**.Knwledge became recognized as the essential pre-requisite for political and spiritual freedom"*۱۵

ژباړه ":د شام پروټسټنټ کالج چې د نامتو امریکن یونیورسټۍ بېروت بنیاد وۀ،په کال ۱۸۶۶ ء کښې ئې تیره کښېښودہ شوہ،پوهه او علم د سیاسي او روحاني آزادۍ د پاره اساسي غوښتنه اوګرځېده۔"

هم دغه مصنف د مهجري ادب د ډکشن، هیئت، او ارتقاء متعلق وړاندې خپل نظر په دې توګه وړاندې کوي:

"Arabic writers were not working entirely in a vacuum, however. There was a revivalist tradition extending back some fifty or sixty years before Gibran’s life to great writers such as Nasif al-Yasiji and Butrus al-Bustani. Poets were aware of the trends in Western poetry and, since there was along and rich tradition of love poetry in the Arabic language, they were particularly attracted by English romantic poetry…this trend was continued in Egypt by several contemporaries of Mutran such as Abdur Rehman Shukri, Ibrahim al-Qadir al-Mazini and Abbas Mahmud al-Aqqad, the main members of the so called Diwan School"*۱۲

ژباړه: "عربي ادیبانو په کُلي توګه په یوخول کښې کار نۀ کولو، د جبران نه پنځوس شپېتۀ کاله اګاهو د ادبي بېدارۍ سرخېلان لکه ستر لیکونکي ناصف الیازجي او بطروس البستاني وغیره (موجود وۀ) شاعران د مغربي ادبي رجحاناتو نه خبر وو، چونکې په عربي ژبه کښې د مینې موضوعات بسیار وو ځکه نو دوي مغربي رومانې شاعرۍ ځان ته ما ئل کړل، دا رجحان په مصر کښې د مطران همعصرو لکه عبدالرحمان الشکري، ابراهیم القادر المازني او عباس العقاد چې د دیوان مکتب فکر سره تړلي وو جاري وساتلو"

رابن واټر فیلډ د عرب ادبي مورخ سلمي جیوسي د ادب مهجر د ساخت، او موضوعاتو او شخصیاتو متعلق جائزه زمونږ مخې ته په دا توګه راوړي:

"It was very early in the century and at the hands of al-Raihani and the Gibran that the possibility of a poem written in prose was suggested and given initial form, although with them it never reached a truly mature stage. Arabic poetry at this century was showing restlessness with more or less settled norms of neo-classicism…the Mahjar attempts at innovation were much more successful despite a weak linguistic basis in the two leading writers al-Raihani and Gibran. A keen initiation, a well- guided talent, a

basically different outlook colored by a persistent foreign cultural influence all helped to release the stream of creativity in these men. A movement of innovation and literary adventure, unequalled in the rest of Arab world, was launched."*۱۷

ژباړه ":دا د دغه صدئ په ابتدا کښې هله ممکنه شوه چې الرېحاني او جبران نثري نظم اوليکلو او ورله ابتدائي ساخت او شکل ورکړے شو،اګر که دوي هغه خپل پوخ شکل ته اونۀ رسېدو،عربي شاعري په دغه پېړۍ کښې د لږ يا ډېر نيو کلاسسيزم د مستقل او غېر مستقل آثار راڅرګندول... د مهجر(ادب) د نوښت کوښښونه سره دوؤ سرکرده ليکونکيو الرېحاني او جبران د لسانياتي کمزوريو زياته کاميابه وه،(دا) يوه غښتلے اقدام، يو باهدف هنر، په بنيادي توګه يو نوے انداز، چې په مستقل بهرني ثقافتي رنګ رنګ وۀ،په دغه افرادو کښې ئې د تخليق سرچينې رابرڅېره کړې،(دا)د نوښت او ادبي مهم يو تحريک وۀ چې په عربي دنيا کښې ئې ثاني نۀ لرله او مخ په وړاندې روان وۀ۔"

چونکې د ادب مهجر اواز او انداز د روح عصر نه بدل او مختلف وۀ ځکه دا سوال ذهن ته راځي چې ددوي موضوعات څۀ وو چې دوي ئې د نورو اديبانو او شاعرانو نه ممتاز کول۔ په دې حقله سيد ضياء الحسن داسې ليکي :

" ـــزیادہ تر ادبی شاہکار شاعری میں پائے جاتے ہیں،انکے موضوعات بھی مختلف ہیں اس میں قومی اور وجدانی اور داستانی ہر طرح کے موضوع اور انداز پائے جاتے ہیں، اس میں روحانی شاعری کی جھلک بھی ملتی ہے جس پر جبران اور نعیمہ کا اثر معلوم ہوتا ہے ـــ بہترین تصویری قصاید کی نسبت بھی انھی شعراء اوران کے بعض معاصرین کی طرف کی جاتی ہے ـــ البتہ نثری شاہکار جنوبی مہجر میں کم ہی نظر آتے ہیں"

ژباړه :"د جنوبي مهجر د اديبانو زيارونه زيات تر د شاعر په شکل کښې دي،موضوعات ئې هم مختلف دي ۔ په دوي کښې قومي،وجداني،سماجي،او داستاني هر رنګه عناصر او انداز شته ۔ ددې ډلې په شاعري کښې روحاني

شاعري هم په نظر راځي چې پرې د جبران او نعيمه اثر ښکاري .د غوره تصويري قصائدو نسبت هم دوي ته کېږي ــــــالبته نثري شاهکار ئې کم په نظر راځي*۱۸

**د شمالي مهجر اديبان :-**

د شمالي مهجر اديبان د جنوبي مهجر د اديبانو نه زيات ځير،وسيع المطالعه او سريع ا لفهم ښکاري ځکه چې د دوي ذهني او فکري تربيت په باقاعده رسمي ادارو کښې شوے وۀ او دې سره سره د خپلو بې قراره طبيعتونو په بنيادد جهانګردي او جهانبينۍ له جذبې سرشار او داعلي مشنري او تعليمي ادارو پرورده او تربيت يافته هم وو -

سيد ضياء الحسن په دغه موضوع خپل پورته ذکرکړي شوي کتاب کښې په ۲۲-۲۳ مخ داسې ګويا دي -

> "شمالی مہجر کے ادیبوں نے ادب کی اکثر قسموں میں طبع آزمائی کی ہے 'اور اس میں نو بہ نو گلوکاریاں اور کرشمہ سازیاں دکھائی ہیں انہوں نے اپنے لئے نئی نئی راہیں بنائیں اور ان پر چل کر منزل سے ہم آغوش ہوئے۔۔۔۔۔موضوعات اور بحروں کے انتخاب میں انہوں نے خاصی جدت پسندی کا مظاہرہ کیا ہے۔۔۔۔۔انہوں نے داستان نویسی شروع کی تو ان کی کہانیاں ادبِ عربی کی بہترین کہانیاں قرار پائیں"

ژباړه:"د شمالي ادب زياترو اديبانو په ګڼو موضوعاتو طبع آزمائي کړې ده، او په نوي نوي اندازونو مخې ته راغلي دي،دوي ځان ته نوې لارې پرانستې دي او په هغې ئې ځانونه خپلو مرامونو ته رسولې هم دي - - - - -د موضوعاتو او بحرونو په انتخاب کښې ئې د زيات جدت پسندۍ نه کار اخستے دے دوي داستان نويسي شروع کړه او بيا هم د دوي قصې د عربي ادب تر ټولو غوره قصې اوګرځېدې-"

د لبنان شام او مصر نه چې کوم اديبانو غربي ملکونو ته کوچ اوکړو نو هلته ئې دالرابطة القلميه په نوم ادبي تنظيم جوړ کړو

الرابطة القلميه **Pen Club**

په ۲۰ اپرېل کال ۱۹۲۰ء د لبنان او شام اديبانو د "الرابطة القلميه" په نوم يو ادبي تنظيم جوړکړو خليل جبران ئي صدر، ميخاؤل نعيمه ئي سکرټري، وليم کاتسفليس ئي خازن اوټاکلے شو۔ ايليا ابو ماضي، نسب عريضه، عبدالمسيح حداد، رشيد ايوب، ندرة حداد، وديع باحوط، او الياس عطاء الله ئي غړي اوګرځېدل، له دې حلقې بهر هم مسعود حامه، امين مشرق، نعمة الحاج، او امين الرېحاني هم دې تنظيم سره خپلې مرستې جاري اوساتلې۔

العصبة الاندلسيه

کوم خلق چې د مشرقي بحر روم د ساحل نه د برازيل د امېزون غاړه ته راورسېدل، هغوي ستر ادبي صلاحيتونه لرل، په ديو کښې ميشال د پخو ادبي صلاحيتونو مالک وۀ، او وروستو ئي د انجمن الرابطة القلميه ځاے واخستو، په جنورئ ۱۹۳۳ کښې د العصبة الاندلسيه بنياد کښېښودے شو، او ميشال معلوف ئې صدر، د او د شکور نائب صدر، نظر زېتون سيکرټري، يوسف البعني (خازن) جارج حبسون معلوف (خطيب) او غړي ئې نصر سمعان، حسني غراب، يوسفف غالم، حبيب مسعود، اسکندر کرباج عنطون، سليم سعاده وغېره وو۔

چې د ادب مهجر د مختلفو اديبانو د فن پارو مطالعه اوکړے شي نو دا خبره مخې ته راځي چې د دې مکتب بنيادي عناصر او خصوصيات د قديمو پابندۍ نه ازادي، فني اسلوب او ممتاز ذاتي او شخصي اثر وۀ، د وطن سره مينه، انساني رجحانات، د فطرت د شعور ژور احساس، تصوير کشي او د وصف مهارت، د شعر نازک غنائيت او مذهبي ازادي وغيره وه۔

په لاتدينيو کرښو کښې مونږ د هغه شخصياتو په باب لنډه پېژنګلو وړاندې کوو کومو چې د دغه تحريک په جاري ساتلو کښې لوے هڅې جاري ساتلې دي۔

**جبران خلیل جبران**

جبران خلیل جبران اغلبا په ۶م جنورئ کال ۱۸۸۳ء کښې د لبنان په قادشیه وادي قصبه بشاري کښې زېږېدلےاو د خپلې مور او ورونو خوېندوسره نیویارک ته په ۲۵ جون کال ۱۸۹۵ء کښې اورسېدو،دۀ سره په دغه سفر کښې ددۀ خور مریانه رحمي،او ورور بطرس رحمي ،مور کامله رحمي، او خور سلطانه رحمي شریک وو.۱۹*

د جبران انګریزي او عربي لیکونه دا مخې ته راوړي چې دۀ نۀ صرف په جدید عربي ادب کښې نوې سا واچوله بلکې د ساخت،ډکشن او پېغام په اعتبار ئې یوه بېخي نوې تجربه اوکړه -دعربي ادب دیارِ غېر مصنف د دۀ د دغه ادبي امتیاز تصویر داسې سازوي :

"جبران نے جدید عربی ادب میں نہ صرف سچی روح پھونکی بلکہ وہ پہلا شخص تھا جس نے لوگوں کے سامنے سادگیٔ تعبیر کا دروازہ کھولا اور اس کے اسلوب میں سادگی کے ساتھ ساتھ پرکاری بھی تھی ـ ـ ـ ـ عربی ادب میں اس سے پہلے یہ اسلوب عام نہ تھا بلکہ جبران سے پہلے ادب جامد، بے معنی الفاظ اور بھاری بھر کم قواعد کی زنجیروں میں جکڑا ہوا تھا* ۲۰"

ژباړه:"جبران نۀ صرف دا چې په جدید عربي ادب کښې ئې نوې سا واچوله بلکې دے هاغه وړومبې سړے وۀ چې د تعبیر د سادګۍ دروازه ئې خلاصه کړه، د دۀ په اسلوب کښې د سادګۍ سره سره پرکاري هم وه، ----په عربي ادب کښې له دې نه وړاندې دا اسلوب عام نۀ وۀ،بلکې د جبران نه وړاندې ادب، جامد ،بې معنې،د لفاظۍ او ګنجلکو قواعدو په زنځیرونو کښې راګېروۀ "

د دوي مشهور تصنیف: المجنون" وۀ ، له دې نه پس ئې " النبي"اولیکلو چې د ادبي روحانیت جبراني نظام ئې د ماده پرستۍ ښکار لکونو انسانانو ته ورسولو،د"السائح" د پاره ئې مضامین اولیکل،او مطران بشیر چې په کال

۱۹۶۵ء کښې وفات وۀ ـ جبران انګرېزۍ کښې ليکلي کتابونه په ډېره ښۀ توګه عربۍ کښې منتقل کړل، دانګرېزۍ کتابونو فهرست ئې دا دے :

The Mad Man **1918**,The Earth Gods **1931**(الهة الارض),The Forerunner **1930**(السابق),The Prophet **1923**(النبي),The Wanderer, Sand and **Foam1926**(رمل و زبد),The Broken Wings۱۹۱۲ (الاجنحة المتكسره)،Spirit Rebellious(الارواح المتمرده)-۱۹۰۳ Jesus the son of Man,**1928**.Secrets of the Heart(**1947**)

د اعلي پايې مصور جبران په مصورۍ هم ژور اثر پرېباسلو*۲۱ لنډه دا چې جبران د عربي ادب دادبي نشاة الثانية په دې دور کښې وړومبے عربي اديب دے چې دا عقيده ئې لرله چې ادب بلند تر پېغام دے...... د هغۀ پېغام دا دے چې د حق او جمال فطرت دپاره دي د خلقو سترګې وغړېږي او ازادي او مينې د سرچشمې په لوري دې د انسانانو لارښودنه اوکړے شي جبران د نولسمې صدۍ د انګرېز متصوفانه شاعر وليم بليک نه اثر واخستو او په امريکه کښې د مېشته کېدو نه پس په وړومبو ورځو کښې جبران د امين غريب اخبار، المهاجر' کښې روماني او فلسفيانه نظمونه ليکل ـ

کښې ليکي "The Wanderer" خپل کتاب

The Heightening Flash

There was a Christian bishop in his Cathedral on a stormy day and a woman came and stood before him, and she said,' I am not Christian, is there any salvation for me from hell fire'? And the bishop looked upon the woman, and he answered her saying, "Nay, there is salvation for those only who are baptized of water and of the spirit".

And even as he spoke a bolt from the sky fell with thunder upon the Cathedral and it was filled with fire.

And the men of the city came running, and they saved the woman, but the bishop was consumed, food of the fire,

ژباړه:يو عيسائي پادري يوه طوفاني ورځ باندې خپله ګرجا کښې ناست وۀ، يوه ښځه راغله او له هغۀ نه ئې تپوس اوکړو، "زۀ خو عيسائي نۀ يم نو زما دپاره د جهنم د اوره له خلاصي او بچاؤ څۀ لاره شته؟ پادري ښځې ته اوکتل او وې وئېل—نه، خلاصي د هغو دپاره ده چې بپتسمه ئې شوې وي او هغۀ لا دا خبره کوله چې ناګهانه په ګرجا تندر راپرېوتو او اور اولګېدو، د ښار خلق په تادي راغلل، ښځه ئې بچ کړه او پادري په اور سوې وۀ او د اور خوراک شوې وۀ* ۲۲

دوي د اپريل په ۱۰مه کال ۱۹۳۱ء د اتۀ څلوېښتو کالو په عمر کښې د امريکې په يو هسپتال سېنټ وېسټائن کښې سترګې پټې کړې او د خپل وصيت مطابق د لبنان د قادشيې وادي په يوه زړه کليسا مارسرکس کښې خاؤرو ته اوسپارلے شو۔*۲۳

**ايليا ابو ماضي**

ايليا ابو ماضي په کال ۱۸۸۹ء يا ۱۸۹۴ کښې په المحيدثه کلي کښې سترګې پرانستې په خپله ليکي چې په مصر کښې د يوولسو کالو پورې ئې استوګنه اولرله او شبينه سکولونو کښې ئې د صرف او نحو مطالعه کوله او د شعر يو ديوان ئې هم په دغو ايامو کښې تيار کړو۔

په کال ۱۹۱۳ء کښې ايليا هجرت اوکړو او خپلې شانداري قصيدې، "ائنة الفجر"، "فلسفة الحياة"، "في اليل" او الخلود وغېره ئې اوليکلې، او د "جديدې مهجري" شاعرۍ امام اوګڼلے شو، په " الفتاة" کښې ئې مضامين اوليکل په کال ۱۹۱۸ء کښې ئې " مرآة العرب" اخبار سره تعلق اولرلو او په کال ۱۹۲۸ء کښې ئې اخبار پرېښود او راتلونکي کال کښې ئې " السمير" نومې خپله رساله جاري کړه۔

عجيبه دا وه چې د ايليا درې زامن وو، رچرډ چې په فزکس کښې د ډاکټرېټ ډګري تر لاسه کړې وه او اېټمي سائنسدان وۀ، دوېم زوے رابرټ ئې په هوائي فوځ کښې او درېم زوے ئې د صحت د کمزورۍ له وجې په کور وۀ خو يو هم د

پلار ژبه نۀ شوه لوستے ځکه چې تربیت ئې امریکه کښې شوے وۀ او ژبه ئې هم د هغه ځاے وه۔

په نیو یارک کښې د ایلیا درې شعري دیوانونه شائع شول، په کال ۱۹۱۸ء کښې۔ وړومبے دیوان ئې په مصر کښې په کال ۱۹۲۷ء کښې، دریم دیوان "الجداول" او ۱۹۴۰ع کښې ئې څلورم دیوان "الخمائل" شائع کړو او په ۲۳ نومبر کال ۱۹۵۷ کښې وفات شو۔

د "تبرو تراب" په نامه د دوي د مرګ نه پس د دوي ټولې قصیدې مطبع دارالعلم للملائین شائع کړې ۔د دوي په شاعرۍ کښې روحاني بلندي، شاعرانه عظمت، تسلي، امېد او د محرومو طبقو د پاره سکون دے د هغۀ په شاعرۍ کښې ژوند سره مینه او عزم دے ۔

**میخائل نعیمه**

میخائل نعیمه په ۱۷م اکتوبر ۱۸۸۹ء کښې د لبنان په وړوکي کلي بسکنتا کښې سترګې اوغړولې د روسي فلسطیني شاهي انجمن په تعلیمي اداره کښې ئې وړومبۍ زدکړې اوکړې او هم دغه ادارې په خپل خرڅ د نورو زدکړو د پاره روس ته واستولو ۔ په یوکرېن کښې "لاهوتي سیمینار" سره متعلق شو، څلور کاله تېرولو نه پس لبنان ته بېرته راغلو او په کال ۱۹۱۱ کښې د امریکې ریاست واشنګټن ته لاړو، په کال ۱۹۱۶ کښې ئې د قانون د تعلیم ډګري تر لاسه کړه او وروستو په کال ۱۹۱۸ء کښې ئې په امریکائي فوځ کښې ملازمت اختیار کړو، په دغه دوران کښې ئې د جبران، نسیب عریضه او ابوماضي وغیرهم سره ملاقاتونه او لیدل کتل اوشو او په شریکه ئې ادبي هلې ځلې رواني وې ۔نعیمه په کال ۱۹۳۱ء کښې د جبران دوفات نه پس په ۱۹۳۲ء کښې لبنان ته واپس راغلو او بسکنتا کښې ئې کډې واچولې - دوي په روس کښې د وخت تېرولو په زمانه کښې د روسي شاعر لارمنتوف نه اثر اخستے وۀ ۔*۲۴

دوي په کال ۱۹۱۶ء کښې د "الاباء والبنون" نوم یو ناول اولیکلو، چې دخپل نوي انداز په وجه ډېر خوښ کړے شو۔میخائل نعیمه د تنقید په ضمن

کښې د "الغربال"په عنوان مضامين اوليکل، چې په کال ۱۹۲۳ء کښې اوليکلے شو او مشهور مصري اديب عباس محمود العقاد پرې تعارفي کلمات او مقدمه ليکلي دي۔ په دغه کتاب کښې په غربي او شرقي مشهورو ليکونکيو او د *هغوي په فن علمي او تنقيدي بحثونه دي ۲۵

د دې نه علاوه ئې "همس الجفون"(د بنړو ګنګوسے) ددوي داشعارو مجموعه ده چې د ۳۰ عربي طبعزاد ، او ځوارلس د دۀ د خپلو انګريزي نظمونو عربي ترجمه ده،دا په کال ۱۹۴۵ کښې شائع شوه -د" "کان ما کان"،د قصو افسانو مجموعه ئې په کال ۱۹۱۴ کښې شائع شوه اود" المراحل" په نوم د مقالاتو مجموعه ئې په دولسو فلسفيانه مضامينو مشتمله ده ،"زاد المعاد" ددوي بل کتاب دے، دقصې او فکشن په فن کښې ئې د"لقاء" ناول ګوتي په کال ۱۹۴۸ء کښې اوليکلو،او بيا وروستو هم دوي خپله انګرېزي ته واړولو، د عمر په اخره برخه کښې ئې د"سبعون" په نامه درې جلده کښې د خپل ژوند حالات اوليکل، هم په دې فن کښې ئې په کال ۱۹۳۴ء کښې د خپل ملګري جبران سوانح عمري اوليکله، چې په بېروت کښې په عربي او بيا ئې خپله انګريزي ترجمې سره په نيويارک کښې په کال ۱۹۵۰ء کښې شائع کړه ،د دوي په فکر کښې د ژبې او بيان صفتونه زيات قدرت سره ظهور لري،د وحدة الوجود او نورومتصوفانه افکارو وجود هم ددوي په فن پارو کښې په نثر راځي*۲۶

**نسيب عريضه**

نومړے اديب د حمص په ښار کښې د اګست په وړومبۍ نېټه کال ۱۸۸۷ء کښې د اسعد عريضه کره پيدا شو د مور نوم ئې سليمه حداد وۀ،ابتدائي زدکړې ئې په روسي سکول کښې تر لاسه کړې او په کال ۱۹۰۰ء کښې د نور تعليم د پاره ناصره ته اوليږلے شو ـ څلور کاله هلته د زدکړو کولو نه پس امريکې ته مهجور شو ـ

په امريکه کښې ئې ثقافتي مياشتنۍ مجله د "الفنون" په نوم په ۱۹۱۳ کښې رساله جاري کړه چې په کښې اکثرو مهجري اديبانو خپلې ليکنې خپرولې-*۲۶

په کال ۱۹۲۲ع کښې د نسیب عریضه وادۀ د عبدالمسیح حداد او ندره حداد خور نجیبه حداد سره اوشو او د اخبار "مراءة الغرب" چیف اېډیټر شوچې وروستو "الهدي" اوبللے شو، دے په بروکلېن کښې په ۲۵ مارچ کال ۱۹۴۶ کښې وفات شو، دوي د روسي او مغربي ادب ژوره مطالعه لرله او هم دغې موازنې د عربي ادب د جمود په باب فکرمند کړے وۀ ـ د "الارواح الحائره" په نوم ئې شعري مجموعه لرله اود ترجمې په باب کښې ئې له روسي ادب نه یو ناول ترجمه کړے وۀ چې " اسرارالبلاط الروسي" نامه ئي لرله، د نسیب عریضه په شاعرۍ کښې په نازک خیالي، منظرکشي، لطافت، اوتاثیر په عروج په نظر راځي *۲۷

**امین الریحاني**- ۱۹۴۰-۱۸۷۶

د ادب مهجر دا همه جهت ادبي شخصیت په الفریکه لبنان کښې په ۲۴ نومبر، کال ۱۸۷۶ع اوزېږېد ،دوي د مغربي، روسي او فرانسیسي ادب ژوره مطالعه لرله، په عربي ادب کښې ئې د اندلس د قدیم شاعر ابوالعلاء المعري او عمر خیام نه اثر واخیست، د انفرادیت په توګه ئې عربي ادب کښې د موجود شعري روایت برعکس ازاد نظم او معرٰی نظم متعارف کړلو ـ دوي په کال ۱۹۱۰ء کښې د "الریحانیات" په نوم خپله مجموعه شائع کړه، د ترجمې په فن کښې ئې د "لزومیات" په نوم د مشهور عربي شاعر ابوالعلاءالمعري رباعیات انګرېزۍ ** ته په کال ۱۹۰۳ع کښې ترجمه کړې او پینځلس صفحې پېژنګلو ئې پرې اولیکله، په کال ۱۹۲۴ ء کښې د عرب نړۍ د خپل طویل سفر روداد د " ملوک العرب او رحالة في البلاد العربیة" په نامه اولیکلو، په دغه تسلسل کښې ئې په کال ۱۹۳۵ ء کښې د " قلب العراق" په نامه بل کتاب اولیکلو- او د " مذاکرات الارقش" په نوم ئې قصه اولیکله ، د دوي ناول دے چې په کال ۱۹۱۱ء کښې په انګرېزۍ کښې شائع شو۲۸ The Book Of Khalid له دې علاوه ئې د هغه وخت په ورځپاڼه "الهدي" او اونیزه" الاصلاح " کښې د مضمونونو لیکلو سلسله هم روانه وه-

**رشید ایوب**

رشید ایوب په بسکنتا په کال ۱۸۷۱ع کښې پیدا شو ۱۸۹۳ کښې امریکې ته لاړو او ۱۹۴۱ء کښې هم هغلته خاؤرو ته اوسپارلے شو۔ ددوي د قصیدو درې مجموعې دي" الایوبیات"،اغاني الدرویش"،او هي الدنیا" ۔په کال ۱۹۲۹ کښې شائع شوې ،سید ضیاء الحسن ندوي خپل کتاب کښې لیکي چې ددوي د شاعرۍ نچوړ په دریو لفظونو کښې کیدے شي،مینه،غم او شراب ۔

**عبدالمسیح حداد**

د ندره حداد ورورد " السایح " اخبار وښتونکے حمص کښې په کال ۱۸۹۰ کښې اوزیږید ، کال ۱۹۰۷ ءکښې ئې د قصو مجموعه"حکایات المهجر"، مسعود سماحه،نعیمه الحاج" جورج صدح،فوزي المعلوف،حبیب مسعود ، الیاس حبیب فرحات،الشاعر القروي،شفیق المعلوف،شکر الله الجر،عقل الجر،الیاس قنصیل،ذکي قنصل،دغه شخصیات دي چې د شعر و ادب او صحافت په میدانونو کښې ئې داسې لوړ خدمات ترسره کړي چې مونږ ټول ادب مهجر لولو نو په دې نتیجه رسو چې دغه مکتب په خپله لمنه کښې اګر که متنوع ، نوي او ځانګړي موضوعات او تجربات لري، د روایت نه بغاوت کوي ،دجمود د لړو او تېَرو نه د امید د روښانه سباؤن په لوري هڅوي ، په عربي ادب کښې د غربي ادب رجحانات متعارف کوي،او غربي ادب د عربي ادب سره متعارف کوي،ګویا دا مکتب فکر د دوه ؤ تهذیبونو،متضادو فکرونو او قدیم او جدید نظام د انضمام یو کوښښ دے ۔خو عجیبه داده چې سره د دې چې اکثر مهجري لیکونکي عیسائي المذهبه دي خو عربي ادب،کلتور،او خاوره ورته تر هرڅۀ ګرانه ده،د جبران په لیکونو کښې د فرسوده مذهبي رسمونو خلاف د بغاوت آواز دے ۔عیسائي متصوفانه افکار دي،د مادیت او سرمایه دارانه نظام خلاف یو مزاحمت دے او د هغۀ د ناقدینو تر مخه هغه د انګریز شاعر ولیم بلیک نه اثر اخستے دے ۔د میخائل نعیمه په تصنیفاتو کښې د مشرقي او مغربي افکارو ژوره مطالعه زمونږ

مخې ته راځي،ځکه چې هغه د جرمني د فلسفيانو باره کښې هم علمي بحث کوي او دخپل وخت د انګريزي ادب هم پراخه مطالعه لري ـ د روس د اهمو اديبانو په ژوند او فن تبصره کوي او د هند د رابندرا ناتهـ د فن احاطه هم کوي د وطن ياد ئې هم بېقراره ساتي او د خپل تشخص د الميې سره مخ دے ـ د ماديت نه د فرار او تېښتې لارې هم لټوي او مذهبي استحصال هم برداشت کولے نۀ شي-خو ددې ټولوخوبيو او خاميو سره دا تحريک ډېر تسلسل سره روان پاتې وۀ اود عربي ادب په نثر او نظم باندې ئې ژور او نۀ ختميدونکي اثرات پرېښې دي - په مجموعي توګه دوي قصيدې،نظم ،او قصې له جديد شکل ورکړو ،دا ګويا د عربۍ ژبې د احياء مختصر مګر زورور تحريک وۀ ـ

په تاريخي توګه سياسي او مذهبي هجرتونو د قامونو په تاريخ، ادب،مذهب او ثقافت پاخۀ اثرات او نقشونه پرېښې دي هغه که د يهودو مذهبي او سياسي مهاجرتونه دي ،که د فلسطين دعربو او عيسايانو هجرتونه دي او که د متحده هند د وېش تحريک او هجرت او د هغو په نتيجه کښې تخليق شوے ادب وي ـخو هر تحريک ځان له خپله مطالعه غواړي،اوس د خپل بحث په دې برخه کښې کله چې مونږ د افغانانوهجرت ، د مسافرت ژوند ،يو نۀ ختمېدونکے جنګ،د معاشرت او معيشت بربادي،او يوه نۀ هېريدونکې ټرېجيډي،په نظر کښې ساتو،نو ادب مهجرت تر يوۀ حده محض د پناګزينو تحريک برېښې او د افغانستان غم او درد ،وير او ويرنې،غربت او مسافرت،انحصار او احتياج،هغه اسباب،عواقب،او مراحل دي چې لائې سفر روان دے ـ

اوس نو چې په دغه قرينه کله مونږ پښتنواو پښتو ادب ته ګورو نو لازمي مو توجو هغه زيارونوته ځي کوم چې د خوشحال خان ختک ،اشرف خان هجري،کاظم خان شيدا ، قاسم علي خان افريدے، او نورو درنو ښاغليو، چې په هند کښې ئې ژوند کولو ـ دغسې هغه ادب هم زمونږ توجو ځان ته جلبوي کومه چې د موجوده پښتونخوا شاعرانو،اديبانو او مشرانوپه افغانستان کښې د ايسارتيا په دوران کښې تخليق کړې ده،لکه د خدائي خدمتګارتحريک

سرخېل اروابښاد خان عبدالغفار خان"،زما ژوند او جدوجهد"،اود اروابښاد اجمل خټک ،"ګلونه تکلونه" وغېره*** ـ ورسره ورسره هغه ادب ته هم ځي کوم چې زمونږ افغانانو د خپل هجرت په دوران کښې تخليق کړے او په ټولو اصنافو کښې ئې غوره او ستر خدمات دي په تحقيق ، شعر ، افسانه ، ناول ، تبليغات،صحافت،ډرامه،تنقيد کښې ډېر بسياره او د قدر وړ کار کړے دے۔ دغه ادبي خدمات په پېښور،کوېټه،عرب ملکونو،جرمني،کېنېډا ،امريکه، روس او ځينو نورو هېوادونو کښې شوے او هم لادوام لري ـ دغه ادبي ښېګړې ډېرې خوارې وارې ، غزېدلې ، بسيارې او متنوع دي چې د موضوع په لحاظ ځان له جدا کتاب غواړي ـ ځکه دا به بيا وخت ته پرېږدو ـ په لاندې کرښو کښې مونږ د يک مشت از نمونه خروار په مصداق د تحقيق ، شاعرۍ، ناول ، افسانې ،او صحافت څو نمونه او د هغوي تصنيفات ذکر کوؤ ـ حقيقت دے چې په دې حقله ډېر لوے ادب تخليق شوے او د هغه ټول تخليق شوي ادب ممکن نۀ دي ـ خو البته دومره وئيلے شو چې د دوي دغه د قدر وړ اثار د حال په ژبه وائي چې : فانّ آثارنا تدُلّ علينا فانظروا بعدنا الي الآثار

ژباړه: زمونږ نخښې به په مونږه دلالت کوي نو زمونږ نه پس زمونږ اثارو ته اوګورئ۔

**تحقيق**

صديق الله ريشتين، ډاکټر مجاور احمد زيار۲۹، ډاکټر زرغونه زېور، ،زلمے هېوادمل، حبيب الله رفيع ۳۰،استاد اصف صميم*۳۱،زرين انځور*۳۲،عزيزه افغاني، سيد محي الدين هاشمي*۳۳،لطيف جان بابي*۳۴، نورالحبيب نثار*۳۵،عبدالظاهر شکيب*۳۶ا وطائر ځلاندوغېرهم

**شاعري**:

محمد صديق پسرلي*۳۷،پير محمد کاروان*۳۸،مصطفي سالک*۳۹،پروين ملال*۴۰،بازمحمد عابد*۴۱،حبيب نثار*۴۲، ،نجيب عامر،لعل باچا ازمون، اسماعيل يون*۴۳اتل افغان*۴۴،او نور بلها ډېر شخصيات،

**ناول:**

سعدالدين شپون*۴۵، محمد زبېر شفيقي*۴۶ترجمه

**افسانه**

:پروين فـيض زاده مـلال*۴۷، پير محمد كاروان*۴۸زرين انځور*۴۹، بريالے باجوړے، اسد الله غضنفر ۵۰*، ورمه سبا عامر ۵۱*وغيره

**صحافت**

:شهرت ننګيال، سردار خان سيرت، اسدالله دانش*۵۲

**اخبارونه**

:سهار، افغان ملت، ****

**ادبي رسالې:**

سپېدې*، ۵۳،الفت*۵۴ورځ

د پاكستان اوخصوصاً پېښور نه علاوه په بهر نړۍ كښې هم دغه وظيفه افغانانو ترسره كړې او هم ئې ترسره كوي لكه په جرمني كښې عبدالباري جهاني او زرين انځور په شان شخصياتو دغه نمونه ادبي خدماتو له دوام وركړے ، په پراګ كښې زلمے شاعر نجيب عامر او ځينو نورو په ريډيائي صحافت كښې د پښتو ادب پنګه پر مخې بيائي۔

**انګلېنډ:**

صفيه حليم، اروابناد زينت انجم ختك، ناهيد سحر،

**پراګ:.**

شاهين بونېرے او هم داسې په ځينو نورو بهرني هېوادونو كښې پښتنو د عربۍ د مهاجير يا د مهاجرت ادب په ډېر ښكلي انداز سره راټول كړے ، او هم ئې په يو نوي انداز سره پښتو ادب ته د نوي روښانه سباؤن زېرمې راپېدا كړې دي ۔چې له كبله ئې د اوس مهال پښتو ادب د جديد نه د جديدتر او د جهان بينۍ مفكورې په خپله لمن كښې راټولولو ته ورسم كړے۔

# حوالې

*۱ الزوزني، محمد خیر ابوالوفا ،الدکتور ،المعلقات السبع مع الحواشي المفیده ،المیزان ناشران و تاجران کتب ،الکریم مارکیټ ،اردو بازار ،لاهور، پاکستان

*۲ عباسي ،ابن الحسن ،بحواله توضیح الدراسة فی شرح الحماسة ،مکتبه عمر فاروق ۴/۴۷۱ ،شاه فیصل کالوني ،کراچي ،اشاعت دهم ،ذي قعده ،۱۴۳۳ه

*۳الدینوري ،ابومحمد بن مسلم بن قتیبه ،عیون الاخبار ،جلد ۲ ،الناشر، دارالکتب العلمیه ،بیروت ،۱۴۱۸ه

*۴الدیوبندي، محمداعزازعلي، مولانا ،الفراسه لمن طالع دیوان الحماسه لابي تمام حبیب بن اوس الطائي ،المکتبة السلفیه ،شیش محل روډ ،لاهور نمبر ۲

*۵ ابوالوفا ،محمدخیر ،الدکتور ،مقدمه المعلقات السبع مع الحواشي المفیده للزوزني

*۶ احمد شوقي ،عبدالسلام ،تاریخ الادب العربي العصرالجاهلي ،صفحه ۱۴ ،الناشر، دارالمعارف

*۷-Ahmed,Akbar.S.,Islam Today, A short Introduction to the Muslim World,I.B.Touris,6 Salem Road London,W2 4BU,175 Fifth Avenue, New York NY 10010,2001

*۸.Taluqdar,Mizazur Rahman, Senior Research Fellow with the Centre of Arabic and African Studies, Jawaharlal Nehru University, New Delhi Arabic Migration Literature of America, The Echo, Volume 1,Issue 111,January 2013,Published by Department of Bengali, Karimganj College, Karimganj, Assam, India,

*۹.Ibid,Page 21

*۱۰.Ibid

۱۱-ضياء الحسن، سيد- عربي ادب ديار غير ميں صفحه ۲۰،تخليق مركز لاهور-
۳۳،۴ شاه عالم-لاهور
۱۲-ايضاً صفحه ۰۹

The Echo Page 22- 13

.۱۴ عربي ا دب ديار غير ميں صفحه -۲۵

۱۵- Water field, Robin, Prophet, The life and Times of Kahlil Gibran, Penguin Books-1999

۱۲. Ibid Page 233

۱۷-Ibid page 235

۱۸،عربي ادب ديار غير ميں صفحه ۲۳،۲۴

*۱۹, Prophet, The life and Times of Khalil Gibran ,Page ۰۹

*۲۰عربي ادب ديارغير ميں ،صفحه ۱۴۲، ۱۴۱

*۲۱- Prophet, The life and Times of Khalil Gibran, Water filed ,Penguin Books

۲۲*The Wanderer His Parables and his sayings, Khalil Gibran,NewYork.ALFREDA. KNOFMemlxi, Stering Publishers (p) Ltd-A-59 Okhla Industries Area, Phase 2, New Delhi 110020

*۲۳- The Third Treasury of Kahlil Gibran Mandarian، P. 210

Edit by Andrew Dib Shifran by Carol Publishing Group Inc…NY, NY USA

*۲۴-Modern Arabic Prose Literature: An Introduction, Trever Le Gassick, Anne Arbor, Michigan November 1970,U.S.Department of Health, Education and Welfare Office of Education Institute of International Studies.

۲۵نعيمه،ميخائل ،فى الغربال الجديد ،مقالات و رسائل نقدية،مؤسسة نوفل،بيروت ،لبنان الطبعة الثانية،۱۹۷۸

۲۲. Ibd p114

۲۷*عربي ادب ديار غير ميں ،صفحه ۱۵۷
The Quatains of Abul Ala'**
*۲۸-Rehani، Amin,The Book of Khalid,New York-DODD,MEAD and Company,October 1911
*۲۹ زيار ،مجاور احمد ،پوهاند ،دکتور ،پښتو پښويه (گرامر) ،دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۲-۲۰۰۳
*ايضاً،پښتو سيندګې، نويزونه،خپرونکي،د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز،فلېټ نمبر ۳۱۴،دريم پوړ،ګل حاجي پلازه،يونيورسټي روډ ،پېښور-
*۳۰ رفيع،حبيب الله،د محمدي صاحبزاده پر ديوان يوځغلند نظر، خپرونکي، امان کتاب، ۱۳۶۵ش/۱۹۸۶
*ايضاً،اواره شيدا ،دامان کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۷۰ هـ ش/۱۹۹۲ء
*۳۱ صميم،اصف محمد ،انځور،زرين،د پتې خزانې ميزان رښتيا ميزان دے، مکتبه سرحد ،خيبر بازار،پېښور،يونيورسټي بک ايجنسي،کال ۱۳۶۹ش، ۱۹۹۰ء
*۳۲ انځور، زرين،د صدر خوشحال ژوند او اثار،خورونکي ډائرېکټر پښتو اکېډيمي،پېښور يونيورسټي ۱۹۹۶ء
*۳۳ هاشمي،سيد ،محي الدين،ادب پوهنه،خپرونکي ، داريک د کتاب ګرځنده کتابتونو اداره، ۱۳۸۱ هـ ش،دخپرونکي پته،دويم کور،رحمان بابا روډ، پوسټ بکس ۱۰۸۴ء ، يونيورسټي ټاؤن ، پېښور
*۳۴ بابي،لطيف جان،پښتو نومښود ،د چاپ چارې،دافغانستان د کلتوري خدمتونو اداره،پېښور، ملت پرېس،لاهور، ۱۳۷۹/۲۰۰۰
*۳۵ د کاظم خان شيدا په ژوند او فن،او سبکِ هندي د دوي د اېم فل او پي ايچ ډي تهيسسز
*نثار،نورالحبيب،د ماشوم نړۍ ،دا اريک د ګرځنده کتابتونونو اداره،د چاپ ځاے،پېښور، ۱۳۷۸/۱۹۹۹

*۳۶ شکیب،عبدالظاهر،منهاج الدین منهاج،ژوند او ادبي خدمات،د ایم اې تهیسسز
*۳۷ پسرلے،محمد صدیق ، ماته شپېلۍ،د ناهید کتاب خپرولو موسسه،اپرېل ۱۹۹۴ع
*ایضاً،داسې هم وو،خپرونکي،د سپېدې اداره،۱۳۶۴ش
*۳۸ کاروان،پیر محمد ، چنار خبرې کوي ،د ناهید کتاب خپرولو موسسه،چاپ ځاے،دانش کتابخانه،پېښور،کال، اسد ۱۳۷۶-اګست،۱۹۹۷
ایضاً،له ماښامه تر ماښامه،د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه"وفا" ټاپ پرنټرز، پېښور، ۱۳۷۱ه ش ، اګست ۱۹۹۲ع*
*۳۹ سالک،مصطفٰي،د طاؤس ښکه،شعري ټولګه
*ایضاً،سپرلے په خال کښې،شعري مجموعه
*۴۰ملال،پروین،وخته راستون شه،پښتو ادبي غورځنګ،کوټه،چاپ ځاے ، لاهور، ۲۰۱۰، ۲۰۱۱ء
*۴۱ عابد،باز محمد،د نکریزو پاڼه،
۴۲ ځانګې ځانګې ارغوان،شعري مجموعه*
*۴۳ یون،اسماعیل،په اورونو کې سندرې،د عبدالمالک بېکسیار په مالي لګښت د هېلې مجلې ادارې له خوا ، ۱۳۷۶ل، ۱۹۹۷م
*۴۴ افغان،اتل،سترګې د نوي کائنات په لورې،دانش خپرندویه ټولنه،کال ۲۰۱۳ء
*۴۵ شپون،سعدالدین، شین ټاغے،شرکت پرنټنګ پرېس لاهور، سمبالونکي دانش کتابخانه،کال ۱۳۷۷ش/۱۹۹۸ م
*ایضاً،کټیالي، خپرؤنکي دانش خپرندویه ټولنه،دانش کتابتون،پېښور- ۱۹۹۹
*ایضاً،د سمڅې یاران،دانش خپرندویه ټولنه،دانش کتابتون،قصه خواني بازار،پېښور، ۱۳۸۱ش/۲۰۰۲م

* ایضاً ،پرخه په ترخه،د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه(وفا)،چاپ ځای ،
ندارد ،۱۳۶۹ش،عقرب-۱۹۹۰(نومبر)
*۴۶ اردو ادب نه د دوي پښتو ترجمې
*۴۷ملال،پروین، فیض زاده،سپینې پاڼې، دناهید کتاب خپرولو موسسه،
پېښور،فروري ۱۹۸۶ء
*۴۸ کاروان،پیر محمد ،له نرګسه تر نرګسه،خپرونکي ،د ناهید کتاب خپرولو
مؤسسه،چاپ ځای ،لاهور ، جوزا ۱۳۷۴ھ ش جون ۱۹۹۵ء
*۴۹ انځور،زرین،تروږمۍ،د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خپرونو
څخه،مطبعه ټاپ پرنټرز ،پېښور،۱۳۶۹ش/اکتوبر،۱۹۹۰ء
*۵۰غضنفر ،اسد الله سارۀ بادونه،خپرندوي،دناهید کتاب خپرولو موسسه،د
چاپ کال۱۳۷۱ ، شرکت پرېس لاهور-
* ۵۱ سبا ،وږمه، عامر ،د وزرې لمن،دانش خپرندویه ټولنه،د دانش خپرندوي
ټولنې تخنیکي څانګه،قصه خوانۍ بازار ،پېښور،۱۳۸۳ل/۲۰۰۴م
*۵۲ دانش خپرندویه تولنه،چې د ژبې ،ادب او صحافت ئې د قدر وړ خدمات
کړي دي
*۵۳ سپېدې،میاشتینۍ ادبي مجله،پي او بکس نمبر،۶۶۵پېښور،پاکستان
*۵۴ دانش خپرندویه ټولنه،پېښور
*** محترم ګل محمد بېتاب سره زما ټیلیفوني مرکه،۲۵،اکتوبر کال ۲۰۱۷
**** پروفېسرډاکټرمحمد زبېر حسرت سره خبرې اترې،۲۰،اکتوبر کال،۲۰۱۷